(c) ketabton.com: The Digital Library



غوارم لتانه خوږ سخن دَ اصحابؓ
غوارم لتانه پاك مسكن دَ اصحابؓ
ربّه! زما دغه ياران نصيب كړې
خدايا عمل مې په قرآن نصيب كړې
ربّه! لتانه هر جنت غوارمه
ربّه! لتانه مغفرت غوارمه
دَ پاك رسول اللّٰه قُربت غوارمه
لتانه ستا زۀ معرفت غوارمه
دغه بيان مې عاليشان نصيب كړې
خدايا عمل مې په قرآن نصيب كړې
غوارم لتانه محبت دَ قرآن
غوارم لتانه له هر شر نه أمان
غوارم لتانه زۀ پناه له شيطان
غوارم لتانه زۀ احمد دَ مردان
ربّه! ښائسته مې هر مكان نصيب كړې
خدايا عمل مې په قرآن نصيب كړې

## دُعا

مال له بدعت نه امان راكړې ربّه!
دَ شيطانت نه امان راكړې ربّه!
دغه دُعا دا التجا ده زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې دَ رسول مینه په زړهٔ کښې کړه
داده په دُنیا کښې حقیقي رښا

تا چې دَ سنت لاره اختیار کړله
داده قدر منده دَ مکي رښا

تا چې شریعت دَ نبي ﷺ ومنهٔ
داده ښائسته دَ عربي ﷺ رښا

تا چې احکامات ددین منلی دی
داده حقیقي دَ مدني رښا

تا چې هر ولي دَ دین منلے دے
داده دَ نبي دَ صحابيؓ رښا

هر یو صحابيؓ ددین یو ستورے دے
دا چې ښکاري دلته مذهبي رښا

هر ځائے شته دَ پاك رسول ﷺ دَ یار رښا
دغه دَ عمرؓ عثمانؓ عليؓ رښا

ما احمد قرآن سنت منلے دے
داده حقیقي دَ امتي رښا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے صورت دَ مصطفیٰ ﷺ دَ خوارلسمي سپوږمی
رښا رښا رښا ده په هر خوا دَ څوارسمي سپوږمی
نشته دے نشته په کښې عیب داده بي عیبه تو له

